# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|


فرستنده: ایمل خان فیضی

۱۵ جون ۲۰۱۱

# د نړۍ تر ټولو بېګناه خلک


نجیب منلی


موږ عجیبه بېګناه خلک یو. که کارېزونه مو وچېږي نو ملامتي یې په وچکالۍ ده، که ویالې مو بندې دي نو ګونا د هغو مؤسسو ده چې د ویالو د پاکولو کار ته یې مخه ده، که خوړونه مو هغه کورونه وړي چې د تېر په هېرولو مو د سېلاو مخې ته اباد کړي دي نو پړه یې د حکومت پر غاړه ده، که غرونه مو وچ کلک دي او ځنګلونه مو په چارتراشو بدل شوي دي د ګاونډیو د لاسه راباندې کېږي، که ماشومان مو بې مانا پروګرامونو ته بړکې سترګې ناست وي نو مسوولیت یې د تلویزیوني چاینلونو او د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت پر غاړه دی... کومه به یې ژاړو؟

د څو کلونو راهیسې د کندز، تخار ، بلخ او جوزجان په ولایتونو کې د آمو سیند هره ورځ، لوېشت په لوېشت د افغانستان ساحلونه ګروي. دا د نن خبره نه ده، پنځوس کاله پخوا هم د درقد ځنګلونه آمو تر ستوني تېر کړي وو. که د خوړونو پر غاړه د ناقانونه ودانیو مسوولیت د هغه چا دی چې دولتي ځمکې یې غصب کړي او ځان ته یې د تاوان لار جوړه کړې، که په کلیو او بانډو کې د ویالو او کارېزونو وېجاړېدل د سېمې پر خلکو باید وروتپل شي، که د ښارونو په کوڅو کې د پلاستیکي کڅوړو ډېرانونه د ښار داوسېدونکو خپل پیداوار دی، هغو سترو طبیعي ګواښونو ته د حل لارې لټول چې د عادي خلکو د عادي امکاناتو پر مټ یې مخنیوی ناشونی وي د حکومت کار دی. د کلدار، شورتېپې او درقد اوسېدونکي پرته له دې چې پر خپلو له منځه تللیو جایدادونو وژاړي بله لار نه لري. هر کال په دوبي کې د پامیر او هندوکش واورې اوبه کېږي او آمو مستوي. دا د طبیعت لار ده. که د آمو د شګو زیږوالی د شاعر تر پښو لاندې د ورېښمو خوند لري دا د هنر چاره ده، خو هرکال چې په زرګونه جریبه ودانه ځمکه د آمو خوراک کېږي دا د ټول افغانستان ستونزه ده.

د پاکو خو سرزوره احساساتو خاوندان ، جنوب لور ته د آمو خوځښت د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا له پاره ګواښ بولي او په دې پلمه ګاونډیانو ته ګوته نیسي. که له احساساتي اړخه دغه اندېښنه د قدر وړ ده، سیاسي او جغرافیایي اهمیت یې دومره نه دی چې څوک دې دوه پاڼې پرې توري کړي. برعکس، د سیمې د خلکو له پاره چې هر

جریب ځمکه اوبه وړي په حقیقت کي یوه کورنی د ژوند له امکاناتو بې برخې کېږي. دلته نو دولتي اداري خپل مسوولیت نه پېژني او نه یې کم ښوولای شي.
حکومت هرکال دوه دری ملیونه ډالره دي کار ته ځانګړي کوي چي د اوبو مخې ته د شګو کڅوړې واچوي. په بل عبارت بې ځایه نه وي که وویل شي هرکال د افغانستان حکومت دوه یا درې ملیونه ډالره د آمو اوبو ته غورځوي. د کلیو د پراختیا د وزارت د اټکل له مخې ځلورسوه ملیونه ډالر په کار دي چې د آمو د سواحلو د تخریب مخه و نیول شي خو حکومت وایي چي دغومره پیسي د دوی په واک کې نه شته نو له بدي ورځې پر ناسور د پرهرپاڼي پټی لګوي.
د پیسو نه شتون یوه جدي موضوع ده. افغانستان په تېرو لسو کلونو کې ډېر هغه بنسټیز زېربنايي کارونه د الله ایلی ته پرې اېښي دي چي د هېواد اقتصاد په پښو درولای شي. علت یې هم دا دی چي پر دغو بنسټیزو پروژو دومره لګښت راځي چي د افغانستان حکومت یې له برابرولو عاجز دی. د کوکچې یا کونړ بندونه په ملیاردو ډالره لګښت غواړي چي پوره کول یې اسان نه دي. پاتي شو د آمو د غاړې ځلورسوه ملیونه ډالره. همدغه حکومت چې د زرګونو هکتارو ځمکو د ژغورلو له پاره ځلور سوه ملیونه ډالر نه شي پیدا کولای، د هېواد په ښارونو او بانډو کې په سګلونه کیلومتره سېمټي دېوالونه په دې هیله جوړوي چي خپل امنیت به پرې وساتي خو نه یې د دفاع وزارت خوندي کړ، نه د کورنیو چارو وزارت، نه د یو او بل ښار ولایتي مانۍ، نه د کندهار زندانونه او نه د اردو مرکزي روغتون. که هر متر دېوال په زر ډالره هم محاسبه شي، په دي تېرو څو کلونو کې د افغانستان حکومت کم له کمه د نیم ملیارد ډالرو په بیه دېوالونه جوړ کړي دي چي خپل ځان پرې له خپل ولسه پردی کړي. خبره د ارزښتونو او لومړیتوبونو ده. د افغانستان حکومت هم لکه د هېواد عادي وګړي یو بې وزلی، بېګناه حکومت دی. د سړکونو پر منځ، له ګټو او کانو بې ګټي دېوالونه جوړلای شي چي هم ترافیک مختل کړي او هم د ولس خوا بده کړي، خو دومره فکر لا چا نه دی کړی، او که کوم تن نیم کړی هم وي چا ورته غوږ نه دی نیولی، چي د انسدادي دېوالونو په بیه د خورا لوړ کیفیت استنادي دېوالونه هم جوړېدای شي.
ورک یې کړئ، پره به یې پر تاجیکستان ورواچوو، هغوی پرته له دې هم زموږ مطبوعات نه لولي نو دا وېره هم نه شته چي رانه به خپه شي.

***یادداشت:***

*ضمن ابراز امتنان از همکار گرامی ما آقای "فیضی" به خاطر ارسال مطلب فوق باید بنگاریم:*

*تا جائی که مطالعات زمین شناسی و ابعاد ائتکالات جغرافیائی نشان می دهد، قدامت "زمین خوری" دریای آمو به قدامت پیدایش این خطه بر می گردد؛ چه طبق یک اصل کلی، تمام رود خانه ها با در نظر داشت موقعیت رودخانه و سمت حرکت آن یکی از سواحل چپ و یا راست خود را تخریب و سمت دیگر را ترمیم می نماید، این ائتکال که ریشه در حرکت وضعی زمین دارد، در سمتی که در معرض تخریب قراردارد در قدم اول با تشکیل تراسها و به مرور زمان با ریزش تراسها، زمین خوارگی را به وجود می آورد.*

*جلو گیری از چنین روند ظالمانۀ طبیعی در نقاط مرزی بین کشور ها، وقتی می تواند متصور و مقدور باشد که زمام امور آن کشور در دست پرتوان و دلسوز مردم خود آن کشور قرار داشته باشد؛ چیزی که از نخستین روز های حاکمیت خاندان بارکزائی در افغانستان و ادامه های خونین و ذلتبار آن، هر گز اتفاق نیفتاده است. بلکه عکس آن در تمام این مدت، زمامداران و حاکمان کشور به عوض حفظ منافع ملی کشور، از موضع مزدور استعمار به*

*حفظ منافع باداران غربی و شرقی خویش مصروف بوده و اکنون نیز با تمام قوا مـی کوشند، تـا تمـام افغانـستان را در طبق اخلاص گذاشته، تقدیم باداران خویش بنمایند.*

*پورتال "افغانستان آزاد – ازاد افغانستان" از توجه آقای "منلی" به چنین امری قدردانی نموده، از جانب خود می افزاید:*

*تـا زمـانی کـه مـزدوران و سر سپردگان اجنبی از قماش خانـدان غدار طلائـی و اسلاف و اخلاف آنها در وجود عبدالرحمان ها، حبیب الله ها، تره کی ها، ببرکها، نجیب ها، ربانی ها، ملاعمر ها و کرزی ها در افغانستان به نمایندگی و به دفاع از منافع استعمار حاکمیت داشته باشند، همه روزه مـی تـوان شاهد مظالم طبیعی و انسانی بر افغانستان و مردم آن بود و فقط وقتی می توان از شر اینهمه مظالم رها شد که در گام نخست به عمر دشمنان میهن در حاکمیت خاتمه داده شود.*

*به امید آنروز*

*ادارهٔ پورتال AA-AA*